مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباري جهاني ۲۰۱۹/۰۴/۲۷

# د نامه حکمت

پـخـوانـیـو زمـانـوکـي یـو پـاچـا وو
تـر پـاچـا یـي مقام لوړ وو شـهنشاه وو
ورتـه پـاتـه پـاچـهي وه لـه نـیـکـونـو
خـزانـي یـي وې راوړي لـه مـلـکـونـو
تـر سـل زیـاتـي یـي بیبیاني وې ساتلي
د ښتـونـو د هـوسیو پـه څـېر ښـکلـي
پـه حـرم کـي یـي د سـرو مـیـو ویاله وه
پـه بـهر کي بـه یـي تـل تـوبه پـه خوله وه
کـه بـه ناست وو پـه دربـار کـي کـه وتـلی
یـو گـړی چـا بـي تسپـو نـه وو لـیـدلـی
نـه پـه غـم د چـا خـبـر نـه په خوړ من وو
بـس یـوازي پـر خـپـل ځان باندي مین وو
ډېـر شـوقـي وو د صـفـت د اورېـدلـو
سـرېـدل یـي د زړه نـه وه پـه ستـایـلـو
پـه ظـاهـر یـي غـوره مـال تـه بد ویـلـه
خـو پـه شـمـېر کـي ورځ تـر بـلي زیاتېدله
پـه دربـار کـي قـصـیدې وې شاعران وه
داستـانـونـه جـوړېـدل غـوره مـالان وه
شـاعـرانـو بـه ویـل پـاچـا زمـری دی
ذوالـقـرنـیـن د زمـانـي دی گـرنـدی دی

****

غـوره مـالـو بـه ویـل پـاچـا هـوښیار دی
چـي ژوندی وي افلاطون مـو څـه په کار دی
جـوړېـدل ورتـه پـه ورځ کـي سل شعرونه
قـصـیـدې وې تـرانـې وې غـزلـونـه
چـي حـالات بـه یـي پـوښتل لـه غـلامـانو
ورتـه جـوړ بـه کـړ لښـکر غـوره مـالانـو
زمـوږ د سر امـان دي وي چي تـه سلطان یي
چـي پـرسر بـاندي مـو سیوری د سبحان یي
شپـه او ورځ بـه پـه وطـن کـي کراري وي
تـر قـیـامـتـه بـه هـم دغـه نېکمرغي وي
زرکـلـن دي پـر دنـیـا راتـه سـلـطان سـې
د اولس بـچـي دي ستـا بـلاگـردان سـې
د پـاچـا عـمـر دي اوږد مـرگـی دي نـه وي
چي ستا سیوری مو پر سر وي غم به څه وي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

نـابـغـه يـي ستـا پـه عـقـل بـه ژونـدي يو
هـم پـه سـولـه هـم پـه جنګ کي ګړندي يو
يـوه ورځ  وو يـو شـاعـر ورتـه راغـلی
پـه وجـود تـر نـورو خـوار او اسـکـېـرلی
چـي دربـار يـي وو لـه کـومـي خوا ميندلی
لا د قـصـــر پـيـــره دار ځـنـګه مـنـلـی
اوږد کـاغـذ يي هم پـه لاس کي ورسره وو
پـه تـنـدي کـي يـي د عـقـل ځرک ښکاره وو

****

خـپـل کـاغذ يـي پـه تـعظيم ورکړ پاچا تـه
نـه افسـر د غـلامـانـو نـه بـل چـاتـه
د پـاچـا پـه خـيـال لـيـکلـي قـصـيـده وه
د صـفـت بـه ځـه تـکــراره سـلـسلـه وه
خو کـه ګـوري ټـول کاغذ وو سپين راغلی
او پـه پـای کـي د پـاچـا نـوم وو لـيـکلی
پـاچـا وويـل زمـا لـه نـومـه مطلب ځه دی
چـي بللـی دي نـه بـــد دی او نـه ښـه دی
شـاعـر وويل زمـا سر تـه دي امـان وي
همېشه دي اوچت ستوری د سلـطـان وي
که هر څومره خلک جوړي قصيدي کـړي
د ستـايـلو درتـه جـوړي تـرانــي کــړي
ستـا يـو نـوم دی پـه هغه يـي پـېـژنـدلی
ستا لـه نيت او لـه عـمـل سـره ګـنـډلی
چـي هـر څـوک يـي په نامه پېژندل کېـږي
تـر قيامـتـه لـه دې نـومـه نه بېلـېـږي
که ولـي دی او کـه شيخ کـه ګناهـکار دی
پـه قسمـت يـي نوم ټاکلی کـردګــار دی
کـه جهان دي جمع کړی وي پـه کـور کي
ټول پاتيږي دا يو نـوم سـاتـي پـه ګـور کي
خـزانـي او غـلامـان چـي دي پـاتـيـږي
لـقبـونــه دي د بـل پـه نـامـه کـيـږي

****

چـي لـه نـوم سره څوک زيږي او اوسيږي
پـه همـدي نـامـه د خـدای مـخـتـه دريږي
ځـکه مـا درتـه دا يـو نـوم دی لـيـکلی
چـي خـالـق دي پــه دې نـوم قلم وهـلی.

د ۲۰۱۹ کال د اپرېل يوويشتمه    ويرجينيا


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ